

# د افغانستان په شمال ختیځ کې د جګړې او سولې سیمه ییز لاملونه:

## د سولې لپاره د سیمه ییزې غونډې موندنې




جولای ۲۰۲۱

***د سولې په لور*** د فرډریش ایبرټ بنسټ (SEF)، د افغانستان د عامه څېړنو موسسې (ORPPA) او میډیوټیک د افغانستان د پراختیا او سولې سازمان (OPDAM) ګډه پروژه ده.

دغه پروژه په اوو ولایتونو؛ کندهار، هرات، بلخ، بدخشان، بامیان، ننګرهار او کابل کې د سولې فرصتونو او پر وړاندې یې شته محلي خنډونو په اړه د نظر د منظمې راکړې ورکړې اسانه کولو لپاره ډیزاین شوې ده.

دغه پروژه د سولې لپاره سیمه ییزې غونډې جوړوي ترڅو افغانان «چیرې چې میشت دي» د خبرو اترو، نظر راکړې ورکړې او فعالیتونو له لارې د شخړو هوارولو په برخه کې ونډه واخلي. په پایله کې، دغه پیښې د سولې لپاره د یوه ګډ لیدلوري رامنځته کولو په موخه د ټولنې په کچه د یوه فعال مشارکت هڅونه کوي. تصویري رسنیزې خپرونې او تولیدات مرسته کوي چې ملي، محلي او نړیوال ګډه اخیستونکي په دې اړه خبر شي او په راتلونکې کې د ګډون لپاره سپارښتنې وړاندې کړي.

دغه لنډیز د لیکوالانو، لوسیل مارتین، سعید پرتو او مارتا لِګراند، له خوا د فرډریش ایبرټ بنسټ (SEF)، د افغانستان د عامه څېړنو موسسې (ORPPA) او میډیوټیک د افغانستان د پراختیا او سولې سازمان (OPDAM) ترمنځ د همکاریو د یوې برخې په توګه چمتو شوی دی.

د ۲۰۲۱ کال د مې په ۲۴ مه د سولې لپاره یوه سیمه ییزه غونډه د بدخشان په فیض آباد کې جوړه شوه او د افغانستان له شمال ختیځې سیمې د څلورو ولایتونو: بدخشان، کندز، تخار او بغلان د مدني ټولنو استازو په کې ګډون درلود. لاندې د هر ولایت د نفوس، جغرافیې، اقتصاد او جګړې اساسي اړخونو ته لنډه کتنه کېږي او وروسته به د غونډې پروسې ته کتنه وشي. د دې نچوړ په پای کې به د بحثونو عمومي پایلې وړاندې شي.

## شالید

څلور واړه ولایتونه په پراخه کچه کلیوالي دي او د وګړو ډېر تراکم په کندز ښار او د بغلان د پلخمرې په شاوخوا کې پروت دی (۱ او ۲ شکلونه وګورئ). کرنیز او د مالدارۍ معیشت د دغو ولایتونو د اکثریت وګړو ژوند چلوي او ورسره څنګ کې د بدخشان او تخار د ځینو کلیوالي ټولنو لپاره کانونه او معادن هم عایداتي سرچینې دي (WFP, November ۲۰۱٦; AAID, ۲۰۱۱; Samuel Hall, ۲۰۱۰). د وچکالۍ او سیل پر وړاندې کلیوالي معیشتونه - چې په وروستیو کالو کې یې خوراکي محصولات او څاروي سخت کم کړي - تر ډېره زیانمونکي دي (Climate Center, April ۲۰۲۱).

په کندز کې د بېوزلۍ کچه د ۷۷ سلنو په لرلو سره تر ټولو لوړ حد کې ده او بدخشان د ٦۵ سلنو، بغلان د ۵۸ سلنو او تخار د ۵۲ سلنو په لرلو سره وروسته ځایونه لري (تخار د بېوزلۍ له ملي اوسط سره یوشان دی) (UNDP, ۲۰۲۰). په ۲۰۱۸ کال، تخار او بدخشان ولایتونه د خوراکي نا امنۍ تر ټولو لوړه کچه لرونکو ۱۰ ولایتونو کې راتلل (CSO, ۲۰۱۸).

**۱ شکل: د نفوس اټکل (2021)**

| ولایت | ټول نفوس | ښاري | کلیوالي |
|---|---|---|---|
| **بدخشان** | ۱,۰۵٤,۰۸۷ | ٤۲,۹۰۰ | ۱,۰۱۱,۱۸۷ |
| **بغلان** | ۱,۰۱٤,٦۳٤ | ۲۱۱,۱۰۵ | ۸۰۳,۵۲۹ |
| **کندز** | ۱,۱۳٦,٦۷۷ | ۳۰۳,۲۵۵ | ۸۳۳,٤۲۲ |
| **تخار** | ۱,۰۹۳,۰۹۲ | ۱٤۸,٦۰۰ | ۹٤٤,٤۹۲ |

سرچینه: د احصائیې او معلوماتو ملي اداره (۲۰۲۱)

**۲ شکل: د ښاري او کلیوالي نفوس ونډه**




د احصائیې او معلوماتو ملي ادارې له احصاییو او ارقامو څخه (2021)

په څلور واړه ولايتونو کې د ۲۰۲۰ کال په اوږدو او د ۲۰۲۱ کال په لومړۍ نیمايي کې، د دولتي ځواکونو او مخالفو وسله والو ډلو ترمنځ نښتې او تاوتريخوالي دوام درلود او له امله يې څو ځايه خلک بېځايه شوي دي (OCHA, 2020a, 2020b, 2020c, 2021).

په ۲۰۲۰ کال، کندز او بغلان د هغو پنځو ولايتونو له ډلې وو چې په کې د دولتي ځواکونو له خوا ډېر شمېر ملکي مرګ ژوبله اوښتې ده. په همدې کال د بشري حقونو فعالان او خبريالان هم د دولت د مخالفو وسله والو د بريدونو قرباني شوي (UNAMA, 2021). په تخار، کندز او بغلان کې د افغان محلي پوليسو له خوا له بشري حقونو څخه د سرغړونو پرله پسې راپورونه هم ورکړل شوي (Clark, November 14, 2019).

بدخشان، کندز او تخار ولايتونه چې له تاجيکستان سره په پوله د مخدره توکو د قاچاق د شمالي لارې په اوږدو کې پراته دي، د قدرت د محلي زورواکانو ترمنځ د نښه يي توکو د سوداګرۍ د کنټرول پر سر د فرقه يي سياليو تر اغېز لاندې دي (هماغه سرچينه).

يوازې د ۲۰۲۱ کال جون مياشتې په اوږدو کې شپږ ولسوالۍ په کندز، ۱۱ ولسوالۍ په تخار، ۸ ولسوالۍ په بغلان او ۲ ولسوالۍ په بدخشان کې د مخالفو وسله والو ډلو تر بريدونو لاندې وې.

**کندز** له ختيځ څخه په تخار، له سوېل څخه په بغلان، له لوېديځ څخه په بلخ او له شمال څخه په بدخشان پورې تړلی. د دې ولايت د اوسېدونکو اصلي ژبې پښتو (له ۴۰ سلنه ډېر اوسېدونکي)، دری (۲۶ سلنه)، ازبکي (۲۰ سلنه) او ترکمني ژبې لرکي دي (CSO ۲۰۰۵).

دغه ولايت په ۲۰۱۵، ۲۰۱۸ او ۲۰۱۹ کلنو کې د طالبانو له سترو بريدونو سره مخ شو. کندز چې د طالبانو لپاره يو ستراتيژيکي تأمينونکی محور دی، له ۲۰۱۵ کال راهيسې، ياني هغه وخت چې د ولايت مرکز د لومړي ځل لپاره د طالبانو لاس ته ولوېد، د هغوی لپاره د لښکر جوړونې او مبارزو په ډګر واوښت (UNSG, ۱۲ March ۲۰۲۱; Ali and Ruttig, ۱۱ September ۲۰۱۹; Ali, ۳۰ January ۲۰۱۶; RFE/RL, n.d.). په ۲۰۲۰ کال، کندز د يادو څلورو ولايتونو ترمنځ د ملکي مرګ ژوبلې تر ټولو لوړه کچه لرله (UNAMA, ۲۰۲۱).

**بغلان** چې د کندز په سوېل کې موقعيت لري، په لوېديځ کې له سمنګانو، په سوېل لوېديځ کې له باميانو، په سوېل کې له پروان، په سوېل ختيځ کې له پنجشير او په ختيځ کې له تخار سره ګډه پوله لري. دری د دې ولايت د ۷۰ سلنه وګړو اصلي ژبه ده او ورپسې پښتو (۲۰ سلنه) او ازبکي ژبې لرکي وروستي ځايونه لري (CSO, ۲۰۰۵).

دغه ولايت د هندوکش ټرانسپورټي لويې لارې په اوږدو کې پروت دی او دغه لويه لاره هغه ستر ټرانسپورټي مسير دی چې کابل له شمالي ولايتونو سره نښلوي او د امنيتي ځواکونو، جنسونو او سونګ توکو د رسولو لپاره حياتي لاره ده. د دې لويې لارې پر شمالي څنډو چې د ولايت په مرکز پلخمري کې د کندز او بلخ په لوري په دوو شاخونو وېشل کېږي، د طالبانو فشارونه سبب شوي چې د هېواد شمال ته د دولت لاسرسی او کنټرول محدود شي (UNSG, March ۱۲, ۲۰۲۱) .

د ولايت امنيت له ۲۰۱۶ کال راهيسې شديداً کم شوی. د ۲۰۱۹ کال په سپټمبر کې، طالبانو پر کندز او پلخمري ښارونو يو همغږی بريد پيل کړ او له هغه راهيسې د دواړو ولايتونو د نيږدې ټولو ولسواليو نسبي کنټرول په خپل لاس کې لري (Ali, ۳۰ October ۲۰۱۹).

**تخار** ولايت د کندز په ختيځ کې له تاجيکستان سره د شمالي پولې په اوږدو پروت دی. دغه ولايت په سوېل لوېديځ کې له بغلان، په سوېل کې له پنجشير او په ختيځ کې له بدخشان سره ګډه پوله لري. دری او ازبکي د دې ولايت دوې اصلي ژبې دي او نيږدې ۴۵ سلنه اوسېدونکي يې پرې خبرې کوي؛ پښتو ژبه له دې وروسته ځای لري (CSO, ۲۰۰۵).

تخار د ډېرو سکرو، ګچ، مالګې او سرو زرو ډېر زيات کانونه لري. دغه کانونه د محلي زورواکو تر شديدې سيالۍ لاندې دي او دولت نه شي کولای د نا امنيو له امله يې استخراج کړي او په دې برخه کې له ګټو ستونزو سره مخامخ دي. د راپورونو له مخې، طالبان د سروزرو (طلا)

د کانونو په ایستلو سره له دې ولایت څخه زیات مالي امکانات ترلاسه کوي (Kakar, ۲۷ April ۲۰۲۱; MOMP, n.d.).

په تخار کې د طالبانو شتون له ۲۰۱۹ کال راهیسې ډېر شوی او د ټول ۲۰۲۰ کال په اوږدو کې د دولتي ځواکونو او طالبانو ترمنځ د تاوتریخجنو جګړو راپور ورکړل شوی (Ali and Ruttig، هماغه؛ UNAMA، هماغه اثر). ځمکنۍ نښتې، هوایي بریدونه او د دولتي کسانو هدفي وژنې په ۲۰۲۰ کال د ملکي مرګ ژوبلې اصلي دلایل ګڼل کېږي چې د ۲۰۱۹ کال په پرتله ۲۵ سلنه زیاتوالی ښيي. همدارنګه راپورونه په محلي ښوونځیو د طالبانو او افغان هوایي ځواکونو د بریدونو خبره کوي چې له امله یې د ښوونیزو تأسیساتو ویجاړېدل او د زده کوونکو او ښوونیز پرسونل وژنه رامنځ ته شوې (UNAMA, op.cit). په محلي زورواکانو پورې تړلو وسله والو ډلو ترمنځ سیالي او د نښه یې توکو د اقتصاد اهمیت، د جګړې تحرکات لا پېچلي کوي (Clark, November ۱٤, ۲۰۱۹).

**بدخشان** چې د افغانستان په شمال ختیځه څنډه کې پروت دی، د شمال له خوا تاجیکستان سره، له ختیځ څخه د واخان دهلېز د چترال او ګیلګیت بالتیستان تر شمال او د چین تر پولې پورې امتداد لري. درې د دې ولایت د ۸۰ سلنه خلکو اصلي ژبه ده او ورپسې ازبکي ژبه (۱۰ سلنه) او د واخان دهلېز قرغېزي ژبې لږکۍ ورپسې ځایونه لري.

د بدخشان ولایت له ۹۰ سلنه ډېره خاوره غرنۍ او نیمه غرنۍ سیمو نیولې. د بدخشان ټولنې تیت پرک او په ځانګړې توګه په ژمي کې له یو بل څخه جلا وي. دغه شرایط له ډېرو لږو زیربناوو سره مل، د سوداګرۍ فرصتونه محدود کړي چې تر یوه حده د غیر رسمي سوداګریز معیشتونو او قاچاقو له نسبي اهمیت څخه سرچینه اخلي (Fishstein, ۲۰۱٤).

همدارنګه دغه ولایت د ارزښتناکو معدني سرچینو له امله، ډېر مشهور دی: د لاجورد ډبره، طلا، لعل بدخشان، نقره، مس، آهک ډبره، اوسپنه، میکا(mica)، د ډبرو سکاره او نور (Pajhwok, ۱٤ January ۲۰۱٤; Fishstein, ۲۰۱٤). له دې سره، د کان کیندنې رسمي صنعت لږه وده کړې. د کارګرانو د امنیت په اړه د شدیدې اندېښنې له امله د کانونو غیر قانوني استخراج منع شوی (BBC, ٦ January ۲۰۱۹). د غیر قانوني او وسله والو ډلو له خوا د کانونو کنټرول په دې ولایت کې د نا امنیو یوه سرچینه ګڼل کېږي.

د ۲۰۲۱ کال په جون میاشت کې د ټولو ۲۸ ولسوالیو له ډلې لږترلږه ۲۲ ولسوالۍ د جګړو او سیالیو کوربه وې او ۲ ولسوالۍ د طالبانو تر کنټرول لاندې وې. په ۲۰۲۰ کال د ۲۰۱۹ کال په پرتله ملکي مرګ ژوبله تر ۷۵ سلنه لوړه شوې او لامل یې تر ډېره ځمکنۍ جګړې، هدفي وژنې، لاسي چاودېدونکي توکي(نا ځانمرګي) ګڼل شوي (UNAMA، هماغه اثر).

### د سولې لپاره د بدخشان غونډه: لنډه کتنه

د بدخشان د سولې په غونډه کې د ښځو او نرانو په استازیتوب ۷۰ تنو ګډون درلود. په ګډونوالو کې له یادو ۴ ولایتونو څخه د مدني ټولنې، خصوصي سکټور او د محلي حکومت استازي، د پوهنتون استادان او دیني علما شامل وو.

په دې سیمه ییزه غونډه کې ګډون کوونکو له یو بل سره بحثونه او خبرې اترې وکړې او په سیمه ییزه کچه د جګړې پر مهمو لاملونو وغږېدل. ورپسې دغه عوامل له پنالیستانو سره شریک شول ترڅو خپل وړاندیزونه وکړي چې یاد عوامل له کومو لارو د سیمه ییزو ټولنو په کچه د سیمه ییزو نوښتونو له لارې هوارېدای شي.

په فیض آباد کې ۴ تنو پنالیستانو د افغانستان په شمال ختیځ کې د جګړې د عواملو په اړه د ګډونوالو لیدلورو ته ځوابونه وویل. په پنالیستانو کې دوې ښځې او دوه نران(د مدني ټولنې غړی او ښځو د حقونو مدافع، یو د ماشومانو د حقونو مدافع، د تخنیکي زده کړو یو استاد او د حج او اوقافو وزارت یو استازی ) شامل وو.



© FES, MADPO, APPRO/ جلیل پویا

د غونډې په بله برخه کې د سولې اړوند غوښتنو، د افغان دولت او طالبانو ترمنځ د سولې د احتمالي هوکړې په اړه د ګډونوالو ترمنځ آزاد بحث وشو. د سولې او د جګړې د محلي عواملو اړوند هغه غوښتنې چې د ګډونوالو له خوا په ګوته شوې، په لاندې ډول دي:

### له سولې څخه د ګډونوالو غوښتنې

د بدخشان د غونډې ګډونوال تر یوه حده هیله من وو چې د سولې هوکړه ښايي مثبتې پایلې ولري، خو په دې شرط چې دغه هوکړه: ۱) په اغېزناکه توګه جګړې پای ته ورسوي، او ۲) په اساسي قانون کې راغلي حقونه وساتل شي. کولای شو دغه غوښتنې په درو موضوعي کټه ګوریو ووېشو:

- لا چمتو او مساعد اقتصادي چاپېریال؛
- لا غوره حکومتوالي او په ځانګړې توګه د فاسدو کارونو کمېدل او د قانون عادلانه پلي کېدل؛
- د ټولنیز انسجام زیاتېدل.

پورته یادې غوښتنې د دې اټکل پر بنسټ ولاړې دي چې په سیاسي نظام کې د طالبانو ادغام کولای شي د مبارزو او هدفي وژنو د کمېدو سبب شي او د ساختاري اصلاحاتو لپاره شرایط چمتو کړي.

یو شمېر ګډونوال فکر کوي چې د شرعي قانون اغېزناک تطبیق کولای شي په دولت کې د فاسدو عناصرو لرې کولو له لارې لا غوره ټولنیز عدالت او حکومتوالي چمتو کړي. په عمومي توګه، ګډونوال تمه لري چې د جګړې نه شتوالي په ترڅ کې سیاسي ثبات او د حکومتوالۍ د اغېزناکو مکانیزمونو شتون، کولای شي په ځانګړې توګه د ټرانسپورټ او رسمي کان کیندنې په سکټور کې د اقتصادي پانګونې د جذبېدو سبب شي.

له دې سره، د سولې د هوکړې په پایله کې د یادو دوو شرطونو (د جګړې پای ته رسول او په اساسي قانون کې د راغلیو حقونو ساتل) د عملي کېدو په اړه مهم شکونه هم بیان شول. په هغو حقونو کې لاندې ټکي شامل دي چې په مشخصه توګه ذکر شوي او ملاتړ او ساتنې ته اړتیا لري: زده کړه، د بیان آزادي، کار او عمومي حوزې ته د ښځو او ټولو لاسرسی. دواړه ښځینه پنالېستانو شدیداً په دې اند وې چې د «سولې د بدل» ورکړه ښځو ته د منلو نه ده.

د بشپړ یا نیمه طالباني دولت په راتګ سره د دولت او مدني ټولنې ترمنځ د اړیکې د ډول نا څرګندتوب ته هم د یوه خبرداري او اندېښنې په توګه اشاره وشوه. په پای کې ـ د ټولنې په اړه د لیدلوري لرلو او له اسلامي شریعت څخه د سم تفسیر له پلوه د خلکو ترمنځ لوی واټن ته په کتو ـ د ټولنې د آزادي غوښتونکو او محافظه کاره وګړو ترمنځ د ایډیالوژیکي شخړو د پېښېدو په اړه هم اندېښنې وښودل شوې.

### د جګړې سیمه ییز لاملونه

د جګړې هغه څلور اصلي لاملونه چې د فیض آباد غونډې د ګډونوالو له خوا په ګوته شول، عبارت دي له:

- د قانون د واکمنۍ نه شتون
- د وسلو وېش
- د کانونو غیر قانوني ایستل
- کمزوری اقتصاد

د ګډونوالو له تشریحاتو سره سم د هر لامل مهم اړخونه په لاندې ډول وړاندې کېږي:



© FES, MADPO, APPRO/ جليل پويا

**لومړی ستونزه: د قانون د واکمنۍ نه شتون**

د ګډونوالو له انده، د قانون کمزوری پلي کول له خلکو سره د عدلي ـقضايي نظام غير منصفانه چلند د دولت پر مشروعيت منفي اغېز کوي او د ټولنو په داخل کې د جګړو زياتېدو سبب کېږي. همدارنګه وويل شول چې ځينې خلک لکه ښځې، ځوانان او لږکي په ځانګړې توګه د دولت له خوا د ځورونې او ناوړه چلند پر وړاندې زيانمن دي.

همدارنګه ګډونوالو پراخ اداري فساد د عدلي نظام د کمزورتيا لوی لامل په توګه په ګوته کړ او داسې ګڼل کېږي چې يوازې زور واکانو ته خدمت کوي او زيانمن کسان لا د محروميت کندې ته اچوي. يوه پنالېست د دې ليدلوري له منلو سربېره زياته کړه:

*ښايي د سيمې په کچه تر ټولو غوره قانوني چوکاټ ولرو چې په کې د اساسي قانون، د قوانينو، فرمانونو او قانوني لوايحو يوه داسې ټولګه شامل دي چې ټول تصويب شوي دي. له بده مرغه هغه څه چې په دې هېواد کې نه پلې کېږي، قانون دی. خپله قانون جوړونکي له قانون څخه سرغړونه کوي. [...] داسې کسان شته تر هغو چې ۵۰۰ افغانۍ رشوت ورنه کړې، اجازه نه ورکوي چې په دفتر کې يې پل کېږدې. موږ له بندښت سره مخ شوي يو. وضعيت خورا زيات خراب دی او د بدلون راتګ زموږ له اټکل وتلی. د دغو ټولو بدبختيو ريښه څلور لسيزه او په ځانګړې توګه دوې وروستۍ لسيزې جګړې دي.*

*۱ شمېره نښځينه پناليسته*

د ګروپ د غړيو له ليدلوري، د نا سالمې حکومتوالۍ مسئلهٔ او د قانون د واکمنۍ نه شتون ستونزو هوارول د قانون او قانوني کړنلارو په اړه عامه پوهاوي، پر قضائيه قوه څارنې کې د مدني ټولنې او رسنيو لا فعال ګډون او په حکومتي بنسټونو کې د جوړښت له پلوه اصلاحاتو ته اړتيا لري. مثال:

*د څارنيزو ارګانونو او مدني ټولنې رول، تر ټولو غوره حالت کې د قضائيه قوې د فعاليتونو کتنه او د قانون په چوکاټ کې د احکامو اجراء کېدو پر کچې څارنه ده. ټولې قضيې بايد له قانون سره سم قضاوت او په ټاکلي وخت حل او فصل شي ترڅو خلک ډاډمن شي او په دې سره د دولت او ولس ترمنځ متقابل باور زيات شي. ۱ شمېره نارينه پنالېست، مدني ټولنه.*

وړانديز وشو چې مدني حقونه بايد له ټيټ عمر څخه زده کوونکو ته وښودل شي او په ښوونيز نصاب کې ځای ورکړل شي ترڅو د حقونو او مکلفيتونو په اړه ژور پوهاوی ترلاسه او وکولای شو چې راتلونکی نسل د غير عادلانه چلند پر وړاندې مقاوم جوړ کړو.

يو شمېر ګډونوالو د ديني علماوو شتون او د خلکو له حقونو څخه د ملاتړ په برخه او دغه راز د قانون پر تنفيذ څارنه کې د هغوی فعال ګډون اړين وګاڼه.

په پای کې، د ګروپ غړيو انتقالي عدالت د ټولنيز انسجام د بنسټ ايښودلو لپاره د يوه شرط په توګه مطرح کړ. هغوی قربانيانو ته د حساب ورکولو او د جنګي جرمونو ترسره کوونکو کسانو د عدلي څار لپاره د يوه چوکاټ د جوړولو پر اهميت ټينګار وکړ.

**دويمه ستونزه: د وسلو وېش**

د جګړې دويم لامل چې ګډونوالو ورته اشاره وکړه، د وسلو وېش و. دا مسئله چې د خلکو لويه برخه وسلې لري، په کوچنۍ کچه د جګړو له شدت سره مرسته کوي او دغه راز وسلو ته اسانه لاسرسی هم په ځانګړې توګه د ځوانو نرانو ترمنځ د يوه هدف په توګه د تاوتريخوالي

نهادینه کېدو سبب شوی. په داسې شرایطو کې چې د عاید زیرولو لپاره لږ فرصتونه شته، ټوپک او وسله د دولت ضد وسله والو ډلو سره د یوځای کېدو له لارې د پیسو ګټولو لپاره د یوې وسیلې په توګه په پام کې نیول کېږي.

*د وسله والو ډلو او ملېشو پراختیا، هغه ستونزه ده چې د وسلو له وېش سره متقابل تړاو لري. افغان محلي پولیس هم د تاوتریخوالي له عامېلو سره د مرسته کوونکي عامل په توګه په پام کې نیول کېږي:دا دولت و چې محلي پولیس یې جوړ کړل. ځینې وخت معاش ورکوي او ځینې وخت نه. دولت دوی ته وسلې ورکوي او هغوی هم ملېشې جوړوي. دغه ډلې له هماغه پیل څخه یو سرخوږی یا یوه ستونزه وه. [...] که چېرې مو د دوی په ځای د ملي اردو او پولیسو پر پیاوړتیا کار کړی وای، محلي پولیسو ته اړتیا نه پېښېده. هغوی [محلي پولیس] غلا کوي، په چور او چپاول لاس پورې کوي، سړکونه بندوي او له نورو لارو پر خلکو ظلم کوي خو له دې ټولو سره بیا هم د وزیر، والي یا امنیه قوماندان ملاتړ ورسره دی. ۲ شمېره پنالېست، دیني عالم*

د ګروپ غړیو د وسلې په بدل کې د مالي امکاناتو ورکړه د ولس ترمنځ د وسلې د شتون کمولو لپاره یوه وسیله وګڼله مګر بیا هم، یو شمېر نور په دې اند وو چې د وسلې مالکیت یوه پېچلې مسئله ده او نه شي کېدای د پیسو ورکولو له لارې هواره شي. یوه ګډونوال شته ننګونې دا ډول انځور کړې:

*که چېرې وسله ولرو، قدرت لرو او کولای شو ځمکې او آبي سرچینې غصب کړو او په پای کې پر خلکو واکمني ولرو. نو څوک حاضر دي چې راشي او خپله وسله وسپاري؟ اجازه راکړئ د اختر په شپو ورځو کې تېره شوې یوه جالبه کیسه وکړم. ما خپل یوه ګاونډي ته وویل چې د اختر په شپه یې له کور څخه ډزې وشوې. هغه وویل «ما خپله ډزې وکړې تر څو مې ګاونډیان پوه شي چې وسله او زور لرم او په دې سره زما د ګواښلو هڅه ونه کړي.» په دې ټولنه کې د دغې ستونزې هوارول اوږدمهاله هڅو ته اړتیا لري. - ۱ شمېره نارینه ګډونوال، مدني ټولنه*

هغه اوږدمهاله لارې چې د ګروپ د غړیو له خوا یې وړاندیز وشو، پر تعلیم او عامه پوهاوي یې تمرکز درلود. وړاندیز وشو چې د وسلې اړوند خطرونو په اړه هم په ښوونځیو کې بحثونه وشي ترڅو ماشومانو ته وښیو وسله لرل ښه کار نه دی. ګډونوالو وړاندیز وکړ چې د ټولنې په کچه د اطلاع رسونې کمپاینونه باید د مدني ټولنې بنسټونه(له نا دولتي موسسو نیولې تر دیني علماوو، رسنیو او محلي شوراګانو پورې) سره راغونډ کړي ترڅو د ټوپک او وسله لرونکو کسانو له خوا د اوښتو زیانونو په اړه په عامه پوهاوي لاس پورې کړي، د دې ستونزې په اړه له ټولنو سره خبرې وکړي او په محلي کچه د وسلو ګرځولو لپاره مقررات وضع کړي.




© FES, MADPO, APPRO/ جلیل پویا

**درېیمه ستونزه: د کانونو غیر قانوني کیندنه**

د کانونو غیر قانوني کیندل او ایستل د جګړو هغه درېیم لامل دی چې ګډونوالو ورته اشاره وکړه. د ګروپ له خوا دوه موضوعات تر پوښښ لاندې ونیول شول. لومړی، د بدیلو معیشتونو لپاره د محلي ټولنو له خوا د کانونو غیر رسمي ایستل او دویم، د هغو زورواکانو له خوا له کانونو ګټه اخیستل چې د ګران بیه معدني موادو په قاچاقولو او پلورلو سره، خپلو جنګیالیو ته وسلې برابروي:

*د محلي ټولنو خلکو له اوږدې مودې راهیسې د طلا او لاجورد ډبرو د کانونو کنټروللـه لاسـه*

*ورکړئ. دغه کانونه د هغو محلي زورواکانو له خوا ایستل کېږي چې د سیمې خلکو ته له مزدورۍ پرته بل هېڅ شی هم نه ورکوي. هغوی لاجورد ډېرې د ډېر کم مزد په بدل کې پر خلکو را وباسي. ـ ۱ شمېره پنالېسته، مدني ټولنه*

د ګروپ د غړیو له لیدلورې، د ټیټې کچې ټکنالوژیو سره غیر رسمي کان کیندنې ته د قانوني اړخ ورکول، او محلي کیندنې کې پانګونه کولای شي د تخار او بدخشان په څېر کان لرونکو ولایتونو کې د کان لرنې صنعت له ښه کېدو سره مرسته وکړي او د محلي ټولنو لپاره عاید زېرونکي دوامداره او ثابت فرصتونه رامنځته کړي. د ګروپ استازي وویل:

*مونږ له یوې خوا یو دولت لرو چې نه شي کولای له معدني شتمنیو څخه ګټه واخلي او نه هم د دې کار قدرت لري. له بلې خوا، همدا دولت وايي له کانونو څخه ګټه ترلاسه کول غیر قانوني کار دی. نو هغه کسان چې ویل کېږي کار یې غیر قانوني دی، وسلو ته لاس اچوي او د دولت پر وړاندې درېږي. ـ ۱ شمېره ګډونوال، مدني ټولنه.*

د ګروپ غړیو یادونه وکړه چې که چېرې دولت له شته کانونو څخه ګټه اخیستلای او د کارګرانو ملاتړ یې کولای، د وسلو لرلو او د ملېشو جوړولو ته د خلکو انګیزه کمېده او د دولت مشروعیت ډېرېده. د غیر رسمي کان کیندلو سکټور ته رسمیت بښل او د هغه مسلکي کول هم د عاید ترلاسه کولو د یوې داسې تګلارې په توګه په پام کې ونیول شول چې کولای شي د ټولنو لپاره د زېربنایي ودې، له کوچنیو سوداګریو څخه د ملاتړ او د تعلیمي تأسیساتو د پیاوړتیا لپاره پانګونه وشي.

د کانونو د کارګرانو د شرایطو ښه کولو پر موضوع هم د هغو کسانو د قانوني تعقیب له لارې ټینګار وشو چې د دوی حقوق تر پښو لاندې کوي. همدارنګه ګډونوالو د ټرانسپورټي لارو او په خوندي بڼه د استخراجي ټکنالوژۍ په برخه کې د پانګونې له لارې کانونو ته د لاسرسي پر اهمیت هم ټینګار وکړ.

له دې سره، د نارسمي استخراج د رسمي کولو پر وړاندې یو خنډ د پراخو اړیکو لرونکو هغو زورواکانو له خوا د کانونو مدیریت دی چې د تولید وسایل یې په خپل کنټرول کې اخیستي او پر سرچینو واک لري. ګډونوالو استدلال وکړ چې کانونه باید د عامه ملکیت په توګه په پام کې ونیول شي او محلي ټولنو ته ورکړل شي. خو هغوی په دې اړه شک درلود چې دولت دې په یوازې سر وکولای شي چې له ټولنو ملاتړ وکړي. یانې:

*محلي ټولنې باید همکاري وکړي او خلک راغونډ کړي ترڅو پوه شي چې کانونه د هغوی شتمني ده او نه باید د شخصي ګټو لپاره د هغو لاندې کول ومني. ۲ شمېره ګډونوال، مدني ټولنه.*

د هغو عواملو او فکټورونو ترمنځ چې ویل کېږي کولای شي په بالقوه توګه په دې برخه کې مثبت او رغنده رول ولري، کولای شو رسنیو، دیني علماوو او ځینو دولتي بنسټونو ته اشاره وکړو ـ دغو ټولو تر اوسه پورې د هغو ټولنو په ملاتړ کې ډېر لږ رول لوبولای چې ژوند یې په ټولیزه یا نسبي توګه د کانونو په ایستلو پورې تړلی دی.

ګډونوالو په ځانګړې توګه یادونه وکړه چې دیني رهبران کولای شي د خپلو سرچینو په تړاو د ټولنې د حقونو لپاره د عدالت غوښتونکو رول ولوبوي او د مناسبو کاري شرایطو ترلاسه کولو لپاره نیاوغوښتنه وکړي. یو پنالېست چې خپله هم دیني عامل و، له دې موضوع سره یې موافقه وکړه چې:

*علما له دې ټکي څخه د ډاډ ترلاسه کولو دنده لري چې له خلکو څخه خپل حقونه نه اخیستل کېږي. مونږ ټول په دې معدني پانګه کې ونډه لرو: ښځې، نارینه، سپین ږیري. [...] تر اوسه ډېر لږ شمېر کسان ـ که هغه د دولتي خواکونو ناوړه ګټه اخیستونکي کسان دي یا د ولس له منځه بېکاره کسان ـ زمونږ د کاني زېرمو کنټرول یې د زور له لارې په خپل لاس کې نیولی دی. پر مونږ ټولو ښځو او نرانو او ټولو افغانانو او ځانګړې توګه دیني علماوو واجب ده چې د خلکو ترمنځ عامه پوهاوی وکړي او پرې نږدي چې له خپلو حقونو*

*محروم شي. ـ ۱ شمېره پنالېست، ديني عالم.*

په پای کې، ګډونوالو د کان کیندلو د مسلکي کولو او د استخراجي تخنیکونو د عصري کولو لپاره د کانونو او پټرولیم وزارت په ګډون د لا ډېرو دولتي بنسټونو د مشارکت غوښتنه وکړه. د دوی په خبره، د کار او ټولنیزو چارو وزارت کولای شي د مناسبو کاري شرایطو په رامنځ ته کولو او ولایتي دفترونه د کانونو د ایستلو پر پروژو څارنه وکړي.

**څلورمه ستونزه: کمزوری اقتصاد**

هغه ستونزه چې په دوو تېرو ستونزو هم اغېز لري، د کاري فرصتونو له نه شتون څخه عبارت ده. بېوزلي او وزګارتیا کورنۍ دېته اړباسي چې تر ډېره په سختو شرایطو کې په خطر ناکو کارونو لاس پورې کړي. همدارنګه بېوزلي او بېکاري له دولت څخه د نارضایتۍ زیاتېدو او د هغو فاسدو مشرانو په هکله د قهر او غوسې لامل کېږي چې له نامشروع لارو يې شتمني ترلاسه کړې ده. لکه څرنګه چې پورته وویل شول، د عاید لرونکو فرصتونو نه شتون په غیر قانوني وسله والو ډلو کې د ځوانانو د ګډون يو له اصلي عواملو څخه ګڼل کېږي.

خپل ګمارنه او کاري فرصتونو ته په لاسرسي کې د فساد شتون هم د اقتصادي ودې يو ټاکونکی لامل ګڼل شوی، داسې چې واسطه لرونکو خو بې تجربې کسانو ته د وړ او لايقو کسانو د زيان په بدل کې ګټه رسوي.

د ګروپ غړيو له محلي توليداتو څخه د ملاتړ پر اړتيا ټينګار وکړ، په ځانګړې توګه په محلي کچه د توليدي زيربناوو پر جوړونې د پانګونې له لارې:

*د مثال په توګه، په بدخشان کې کاري ځواک او آبي سرچينې شته دي. ستونزه دا ده چې موږ سړې خونې نه لرو ترڅو خپل محصولات په کې زېرمه او بيا يې د کال په بېلابېلو فصلونو کې وکاروو. همدارنګه، موږ په ټولو ولايتونو کې فابريکې نه لرو ترڅو د کورني توليد څرخ ته حرکت ورکړي. پر زيربناوو پانګونه کولای شي د شغل رامنځ ته کېدو سبب شي او په پايله کې له وسله والو ګروپونو سره د ځوانانو يو ځای کېدل کم کړي خو په دې شرط چې دغه کار وشي. ـ ۱ شمېره ګډونواله، مدني ټولنه.*

ګډونوال په ځانګړې توګه هيله مند وو چې د دولت او طالبانو ترمنځ د سولې تړون جګړې پای ته ورسوي او په محلي اقتصاد کې کورنۍ او بهرنۍ پانګونې رامنځ ته کړي. همدارنګه هغوی د يوه داسې نوي دولت په لرلو هم ټينګار وکړ چې د سرچينو زيرمه کولو او د سياسي مشرانو په واسطه د پانګه تښتونې په توګه تيرو کړنو څخه واڅن ونيسي، هغه بله لاره چې په دې اړه ورته اشاره وشوه، دا وه چې کوچنيو متشبثانو ته بلاعوضه مالي مرستې چمتو شي ترڅو له دې لارې کوچني او منځني تشبثات وده وکړي.

**پایله**

د بدخشان د سولې په غونډه کې له شويو بحثونو څخه لاندې څلور سترې کتنې ترلاسه شوې.

لومړۍ کتنه، د تلپاتې سولې اړوند بحثونو کې د اقتصادي اړخونو څرګندتوب دی ـ کوم چې د شتمنيو په وېش کې د پراخې نابرابرۍ په تړاو د شديدې نارضايتۍ په وسيله ښکاره شوی دی. بېوزلي، بېکاري او د کاري فرصتونو کمښت ته هم د جګړو د ناوړه پايلې او هم د شدت ښيونکو عواملو په توګه اشاره شوې. د ټولنيز عدالت او د ټولنيز پيوستون تفکر هم د تلپاتې سولې د شرايطو اړوند بحثونو په اوږدو کې ډېر ځله ياد شوی او همدارنګه د اقتصادي ودې او جګړو د درېدلو ترمنځ ښکاره اړيکه ليدل شوې ده.

اوربند هم هغه بل ټکی دی چې که څه هم د سولې لپاره مخکې شرط ګڼل کېږي، خو د خلکو د اقتصادي وضعيت ښه کولو لپاره د پانګونې نه کېدو په صورت کې، د نا برابريو کمېدل او له فاسدو مشرانو څخه د امتيازونو اخيستل ، په يوازې توګه نه شي کولای د اوږدمهاله سولې د ټينګښت لپاره کافي اوسي.

دويم دا چې ګډونوالو د هغه حکومت په اړه ژوره ناهيلي ښوده چې له ۲۰۰۱ کال راهيسې جوړ شوی. د حکومت

کولو د یوې بنې په توګه د فساد نهادینه کېدل، په محلي کچه د جګړو ستر عامل ګڼل شوی. دولتي چارواکو ته د هغو کسانو په سترګه کتل کېږي چې د جګړو د رېښو وچولو په برخه کې اړین اتحاد نه لري او په اصل کې د جګړو له شدت سره مرسته کوي ـ ځکه چې هغه فاسد سیاسي مشران چې له سزا او قانوني تعقیب څخه معاف دي، د خلکو اړتیاوو ته پام نه کوي او تر ډېره د ولس پر حقونو خېټه اچوي. نا سالمه حکومتوالي په ځانګړې توګه د رسمي دولتي ارګانونو د نا مشروعیت لامل ګڼل کېږي او هغه څه یې بولي چې له امله یې وسله والې ډلې او ملېشې ورځ تر بلې زور اخلي.

په مقابل تکي کې، د نوي رژیم لیدلوری هم د ژورو اندېښنو او هم د حکومت د ښه کېدو لپاره د هیلو یوه دریځه وه. د ګډونوالو یوه اساسي غوښتنه دا وه چې باید د دولتي بنسټونو له خوا لا ډېر شفافیت او حساب ورکونه چمتو شي. له دې تولو سره، د دې خبرې نا څرګندتوب چې نوی دولت به څه ډول وي، د ژورو اندېښنو او تشویشونو سبب کېږي.

درېیمه کتنه، هغه اوږدمهاله سیورې دی چې په دوحه کې د سولې خبرو اترو په محلي کچه د سولې اړوند بحثونو باندې اچولی. د پروسې نا قاطعیت او په اړه یې د اتکل او وړاندوینې نا شونتیا هم په خپل وار د دې تکي اتکل سخت کړی چې مدني ټولنه (البته د پراخې مانا له مخې) د ټولنیز انسجام د ټینګښت او د سولې د شرایطو چمتو کولو لپاره کوم ګامونه پورته کولای شي. یو شمېر عوامل او فکتورونه ـ په ځانګړې توګه هغه نا دولتي موسسې او د بشري حقونو فعالان چې په تېرو دوو لسیزو کې د نړیوالو تمویلوونکو له مالي ملاتړ څخه برخمن وو، په دې اړه اندېښنه لري چې د طالبانو تر قسمی یا بشپړ کنټرول لاندې نوی دولت کې به د دوی رول څه وي او څه ډول به تعریفېږي. په عمومي حوزه کې د ښځو موقف او ځای هم یوه بله مهمه پوښتنه ده. دا پوښتنه د شرعي قانون د تفسیر د څرنګوالي په اړه د ابهام شته والي او دغه راز په دوحه کې د ښځو د استازیتوب د مؤثریت په اړه شته شکونو ته په پام سره، رامنځ ته شوې.

په پای کې دا چې د دولت او طالبانو ترمنځ د سولې تړون ته الزاماً د هغه څه په سترګه نه کتل کېږي چې جګړې به پای ته ورسوي. یو شمېر ګډونوالو شدیداً شک درلود چې د ۲۰۲۱ کال په سپتمبر کې د بهرنیو ځواکونو له وتلو وروسته به طالبان خپلې وسلې پر ځمکه کېږدي.

په دې اړه نوري اندېښنې هم شته چې سوله او پخلاینه په یوه داسې ټولنه کې څه ډول رامنځ ته کېدای شي چې څلور لسیزو جګړو په کې ژور درځونه جوړ کړي دي؛ داسې درځونه چې په تېرو ۲۰ کالو کې د سیاست په قومي کولو او د ټولنې د مختلفو برخو ترمنځ د ایډیالوژیکي تضادونو په پیاوړي کولو سره، لا پراخیا ورکړل شوي.

***تصدیق***

د پوښتې انځور د محمد عارف کریمي له خوا اخیستل شوی.

***قانوني یادونه او د مسؤلیت نه منل***

© د کاپي او نورو ټولو حقونو حق د APPRO، MADPO او FES موسسو لپاره خوندي دی.

د دې اثر هېڅ یوه برخه له APPRO (www.appro.org.af) موسسې، MADPO (www.mediothek-afghanistan.org) او FES (www.afghanistan.fes.de) څخه له لیکلي اجازې پرته، د بیا تولید او د بیا مونډلو په سیستم کې د زېرمه کولو وړتیا نه لري او اجازه نه شته چې په هره بڼه یا د هرې وسیلې په کارولو سره بل ځای ته ولېږدول شي.

## چينې:

Afghan Aid (AAID) (2011). Dryness Impact Survey Report – Badakhshan. AAID. Available at: https://reliefweb.int/report/afghanistan/dryness-impact-survey-report-badakhshan

Ali, Obaid, and Ruttig, Thomas (2019). Taleban attacks on Kunduz and Pul-e Khumri: Symbolic Operations Afghanistan Analysts Networks (AAN). 11 September. Available at: https://www.afghanistan-analysts.org/en/reports//war-and-peace/taleban-attacks-on-kunduz-and-pul-e-khumri-symbolic-operations

Ali, Obaid (201a) Afghanistan's 2019 Election (22): Glances at Kunduz, Baghlan, Samangan. Kabul: Afghanistan Analysts Network (AAN), 30 October. Available at https://www.afghanistan-analysts.org/en/reports/political-land-/scape/afghanistans-2019-election-22-glances-at-kunduz-baghlan-samangan

Ali, Obaid (2016). The 2016 Insurgency in the North: Beyond Kunduz city – lessons (not taken) from the Taleban takeover. Kabul: Afghanistan Analysts Network (AAN), 30 January. Available at: https://www.afghanistan-analysts.org/en/reports/war-and-peace/the-2016-insurgency-in-the-north-beyond-kunduz-city-lessons-not-taken-/from-the-taleban-takeover

Clark, Kate (2019). A Maelstrom of Militias: Takhar, A Case Study of Strongmen Co-opting the ALP. Afghanistan Analysts Network (AAN), 14 November. Available at: https://www.afghanistan-analysts.org/en/reports/war-and-/peace/a-maelstrom-of-militias-takhar-a-case-study-of-strongmen-co-opting-the-alp

:BBC News (2019). Afghanistan gold mine collapse in Badakhshan kills 30. 6 January 6. Available at

https://www.bbc.com/news/world-asia-46772155

Climate Center (2021). 13 million Afghans lack food as drought crisis intensifies. 21 April. Available at: https:///www.climatecentre.org/3968/13-million-afghans-lack-food-as-drought-crisis-intensifies

Fishstein, Paul (2014). Evolving Terrain: Opium Poppy Cultivation in Balkh and Badakhshan Provinces in 2013. .(Kabul: Afghanistan Research and Evaluation Unit (AREU

Islamic Republic of Afghanistan, Central Statistics Organization (2018). Afghanistan Living Conditions Survey .2016-17. Kabul: CSO

Islamic Republic of Afghanistan, Ministry of Mines and Petroleum (n.d.). Takhar Province Mineral Appearances. Available at: https://momp.gov.af/takhar-province-mineral-appearances

Islamic Republic of Afghanistan, National Statistics and Information Authority (2021). Afghanistan Statistical Yearbook 2020. Issue No: 42. Available at: https://www.nsia.gov.af:8080/wp-content/uploads/2021/04/Afghanistan-Statistical-Yearbook-first-Version.pdf

Islamic Republic of Afghanistan, Central Statistics Organization, and United Nations Population Fund (2005). .Afghanistan. A Socio-Economic Demographic Profile

Kakar, Ajmal (2021). Takhar: Taliban earn millions of afghanis from illegal mining. Pajhwok Afghan News, 27

:April 27. Available at

/https://pajhwok.com/2021/04/27/takhar-taliban-earn-millions-of-afghanis-from-illegal-mining

Pajhwok reporter (2014). Mineral resources of Badakhshan province. Pajhwok Afghan News. 14 January. Available at: https://mines.pajhwok.com/news/mineral-resources-badakhshan-province

Samuel Hall (2010). Review of Country Strategy (Badakhshan and Takhar). October. Available at: https://static1.squarespace.com/static/5cfe2c8927234e0001688343/t/5d1de4ba345aa60001cfe3a0/1562240198554/Review-of-Country-Strategy-Mission-East.pdf

United Nations Development Programme (UNDP). (2020). Pitfalls and Promise: Minerals Extraction in Afghanistan. Afghanistan Human Development Report 2020. Available at: :https://www.af.undp.org/content/afghanistan/en/home/library/human_development/NHDR-2020.html

United Nations Office for the Coordination of Humanitarian Affairs (2021). Afghanistan: Weekly Humanitarian Update (24-30 May 2021). Situation Report, 2 June. Available at: https://reliefweb.int/report/afghanistan/afghanistan-weekly-humanitarian-update-24-30-may-2021

United Nations Office for the Coordination of Humanitarian Affairs (2020a). Takhar Operational Coordination Team (OCT) Meeting, 13 April. Available at: https://www.humanitarianresponse.info/sites/www.humanitarianresponse.info/files/documents/files/afg_minutes_20200413_oct_ner_takhar.pdf

United Nations Office for the Coordination of Humanitarian Affairs (2020b). Kunduz Operational Coordination Team (OCT) Meeting. 12 August. Available at: https://www.humanitarianresponse.info/sites/www.humanitarianresponse.info/files/documents/files/afg_minutes_20200812_oct_ner_kunduz.pdf

United Nations Office for the Coordination of Humanitarian Affairs (2020c). Baghlan Operational Coordination Team (OCT) Meeting. Inter-Cluster. 17 November. Available at: https://www.humanitarianresponse.info/sites/www.humanitarianresponse.info/files/documents/files/afg_minutes_20201117_oct_ner_baghlan.pdf

United Nations Assistance Mission in Afghanistan (2021). Afghanistan: Protection of Civilians in Armed Conflict. Annual report 2021. Available at: https://reliefweb.int/sites/reliefweb.int/files/resources/afghanistan_protection_of_civilians_report_2020.pdf

United Nations, Secretary General (2021). The Situation in Afghanistan and its implications for international peace and security. UN Doc. A/75/811 – S/2021/252. 12 March. Available at: https://www.securitycouncilreport.org/atf/cf/%7B65BFCF9B-6D27-4E9C-8CD3-CF6E4FF96FF9%7D/S_2021_252_E.pdf

United Nations World Food Programme (WFP), United Nations Environment Programme (UNEP), Afghanistan's National Environmental Protection Agency (NEPA) (2016). Climate Change in Afghanistan: What does it mean for rural livelihoods and food security? November. Available at: https://postconflict.unep.ch/publications/Afghanistan/Afg_CC_RuralLivelihoodsFoodSecurity_Nov2016.pdf

Zucchino, David (2019). Captives and Defectors? Taliban Fighters Tell Conflicting Tales. 7 November. Available at: https://www.nytimes.com/2019/11/07/world/asia/taliban-afghanistan-defectors.html